# د "ویښ زلمي" ملي مترقي نهضت

## ویاړلی غړی



# محمددین ژواک

۱۲۹۵ - ۱۳۷۶ ه ش.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

انجنیرعبدالقادر مسعود

په دغه لیکنه کې د یو داسې نامتو او د درناوي وړ شخصیت په هکله خبرې کوم ، چې دی یو ادیب ، شاعر، ژورنالیست ، محقق، څېړونکې ، سیاست پوه و، او د پښتو ادب او فولکلور په برخه کښې د یو خوږ ژبې ، دروند ، پوخ او نامتو لیکوال په توګه ځلیدلې دی ، او د ده نوم په کلتوري او فرهنګي چارو کې ځلانده او نه هیریدونکې دی. دا خود رویه ، غوړیدلې ګل اوفرهنګي څیره اروابناد استاد محمد دین ژواک دی.

استاد ژواک صیب په (۱۲۹۵ ) لمریزکال په کندهار کې زیږدلې دی . د ژواک صیب د شعرونو، لیکنواو افکارو سره زموږ زیاتره لیکوالان ، ادبي او فرهنګي څیرې آشنا دي. دی د پښتو او دري ژبو یو تکړه، غښتلې او پوخ لیکوال و، او د ده لیکنی د پښتو د ادبي نثرونوپه څیړنه کې یوه ارزښتناکه شتمنی ده ، او د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کښې د قدروړ ځای لري . دی د یو ځانګړي سبک خاوند و. استاد ژواک صیب همدارنګه د ادبي نثر تر څنګ د پښتو ژبې د ودې لپاره ، او د پښتو ژبپوهنې او ګرامر پوهنې په برخه کې او همدا ډول د فولکلور او فولکلور پوهنې په هکله ډیرې هڅې کړې دي، چې د دی زیار او هڅو له کبله ده (څیړنملی) علمي او اکادیمیک لقب ترلاسه کړې دی. د ده ادبي لیکنې ډیری په زړه پورې ، خوږې اودرنې دي. دی یو ادبي نثر لیکونکې و، او په ادبي نثر کې د تصویر نګاري په فن کې یو وارد انسان و. د ده په خوندورو لیکنو کې پاک، سپیڅلې او ملي احساسات په ډیر عالي توګه څرګند شوي دي. هر چاچې د ده لیکنې ویلې او اوریدلې دي نو خامخا په ده باندی یې ډیر ژور اغیز کړې دی. (استاد عبدالله بختاني خدمتګار) چې زموږ د هیواد یو درونـد، نامتو ادیب ، شاعر، لیکوال او څیړونکې دی په خپله یوه لیکنه کې د ژواک صاحب په هکله داسی وایي :

(د څیړنمل ژواک بدیعي ادبي نثرډیرعالي دی، په ډیروبرخوکښې یې یوه مرکزي ایډیه پیچلې او نغښتې ده ، ښکلې او ابتکاري دی ، دغه لیکوال په دې لیکنو کښې ډیر عاطفي او کله هیجاني غږیږي ، په وینا کښې له دقت سره، شور، مستي ، احساسات، او هیجانات لري. په پای کښې خپل لوستونکي د اعجاب او حیرانتیا په داسې یو مقام دروي چې پر چا آفرین یا نفرین ووایي، یا وژاړي او یا وخاندي.) استاد ژواک صیب په خپل ژوند کې ډیری لوړې ژورې لیدلی او ډیری ترخې ګاللي دي. ده دخپل هیواداوطنوالوسره مینه اومحبت درلود، اود هیواد د سوکاله حالاتواود وطنوالو د خوشیو سره خوشحاله و، او دهیواد د ستونزو او کړکیچن حالاتو سره او د وطنوالو دغمونو اودردونو سره غمجن کیدو او اوښکې تویولې، او د خپل زړه دردونه یې په خپلو لیکنو کې څرګندول. ده په خپلو لیکنو کې د هیواد د ټولنیزو پیښو تصویرونه په واقعي او ریښتیا او عیني ډول څرګند او بیان کړې دي. دی دخپل هیواد د طبیعي او ټولنیز چاپیریال محصول دی، همدغه وجه ده چې د ده زیاتره لیکنې د هیواد د پیښو او ټولنیزو نا خوالو حالاتو څرګندوی دی. ده دغو ټولو حالاتو سره مبارزه وکړه او د صبر، تحمل ، او زغم لاره یې پراخه کړه او خپلې لیکنو ته یې دوام ورکړ. ژواک صیب یو مهربان ، متواضع او زړه سواندې او دپراخې حوصلې خاوند انسان و. ده له خپلو دوستانواویارانوسره ډیره مینه لرله،اوپه ځانګړي توګه ده د ځوانانوداستعدادونو د روزنې او پالنې لپاره زیاته پاملرنه کوله. ژواک صیب د پښتو ژبې د ودې لپاره ډیرهنري اوفرهنګي خدمتونه کړې دي، او په ډیرو علمي سیمینارونو ، ادبي او فرهنګي غونډو کې د هیواد د ننه او بهرفعاله ونډه اخیستي ده. دی د پښتو د ادبي نثر دشعرونو ، او هنري داستانونو په برخه کې یو ځانګړې سبک لري ، او د پښتو د ادبي نثر یو پوخ لیکوال ګڼل کیږي ، همدا وجه ده چې زیاتره ادیبان او فرهنګیان د ده دغه مقام ستایي. د ده ادبي او فرهنګي شخصیت نه یوازی په هیواد کښې د ننه بلکه د هیواد نه بهر هم د لیکوالانو له خوا په ډیر عالي ډول ستایل شوي دی.

ژواک صیب یو شمیر ادبي، فرهنګي او تاریخي آثار لیکلي دي چې د قدر وړ دي لکه :
ویراوتصویر، افغاني حماسه ، پښتني سندرې، پروني هینداره، پښتومتلونه، شمع فروزان، رمزو راز او د افغاني موسیقي کتاب او داسی نورې لیکنې.
ژواک صیب په خپلو آثارو کې زموږ د پښتو ادب تاریخ ښه‌ای او پیاوړی کړی د ی.دایو څر ګنده حقیقت دی، چې موږ دیو لیکوال ، ادیب، شاعر، محقق، ادبي، فرهنګي، سیاسي او تاریخي شخصیت د دوی په آثارو کې او د دوی په څیړنو کې لټولی او موندلی شو. د ژواک صیب آثاراو لیکنې هم د ده د ادبي او فرهنګي شخصیت شکارندوی دي ، او د ده آثاراو ادبي لیکنې د ټولو ادبي اوفرهنګي څیرو لپاره چې د خپل لرغوني او سپیڅلي هیواد سره مینه لري ډیری په زړه پوری دی،اود ده شخصیت به لکه دادب نورستوري هروخت روښانه وي.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

آغلې ( زرغونه ژواک عطا ) چې زموږ دهیواد یوه تکړه، پیاوړې اونامتواد بې اوفرهنګې څیره ده، اود راډیو او تلویزیون یوه خوږ ژبې ویانده وه او ده په خپله یوه لیکنه کې د استاد ژواک صیب د پوره پیژندګلوي لپاره داسی وایي :
استاد محمد دین ژواک د ارواښاد غلام محی الدین خان زوی په (۱۲۹۵ لمریز) کال کې د پخواني خشک آوې یا (دامان) او اوسنی ډنډ ولسوالی پوري اړوند د روربات په کلي کې زیږیدلی دی، لومړنی زدکړې یې په خصوصي ډول وکړې، د ځوانی په لومړیو وختو کې یې په کندهار کې د دارالمعلمین د مستعجل کورس تر لوستو وروسته په (۱۳۱۶) لمریزکال کې د ډنډ ولسوالي په ښوونځي کې ښوونکی شو، په (۱۳۱۸) کال کې کابل ته ولاړی او هلته په نجات یا اوسنی اماني لیسه کې د ادبیاتو ښوونکې وګمارل شو، په (۱۳۲۶) کال کې د ملي دفاع وزارت د پښتو سرمفتش وټاکل شو او په (۱۳۳۰) کال کې د پښتو ټولني یا اوس د افغانستان د علومو اکاډمی د ( زیري ) اخبار مرستیال وټاکل شو. په (۱۳۳۱) لمریز کال کې د پښتو او قواعد و د صرف و نحوي د څانګي مدیر شو او په (۱۳۳۲)کال کې د ادبیاتو د مد یریت دنده ور په غاړې شوه. په (۱۳۳۴) کال کې د کابل مجلې مسؤل و ټاکل شو او هم یې بیا د پښتو ټولنې د مسلکي غړي په توګه کار کاوه. استاد محمد د ین ژواک د همدغو کلونو په ترڅ کې د ویښو زلمیانو په غورځنګ کې کارنده ونډه لرله. ارواښاد ژواک ډیر کلونه په راډیو افغانستان کې د پښتو لوست په مخامخ توګه وړاندې کاوه.

د استاد ژواک څیړنیز آثار:
د پښتو د انګریزي ګرامر پرتله چې کابل مجلې خپور کړې دی.
د توان وروستی شپه ، چې هغه وخت طلوع افغان ورځپاڼي خپور کړې دی.
(مات ښانګ) په پروان ولایت کې (پروان) ورځپاڼي خپور کړې دی.
د ادبي مکاتبو ټولګه یې هغه وخت ژوندون مجلې خپره کړې ده.
همدا ډول استاد په هغه وخت کې دپښتو لوست کتاب د څلورمو ټولګیو لپاره لیکلی و.
بیا یې لس کاله د پښتو ټولني د ( زیري ) جریدې مسؤلیت ته اوږه ورکړې وه، چې هلته یې د ( زوړ باب او نوي وخت) افسانو، ادبي تیوریو اومکتبو ، ګپ شپ ، کور او کهول تر سر لیکنونو لاندي لړی پرله پسې خپرې شوي دي.
همدارنګه استاد ژواک په سلهاوو نور علمي او څیړنیز آثار د هیواد په رسنیو کې خپاره کړي دي.
شعراو شعریت یې بله لیکنه ده. دداستانومجموعې یې (پرونی هینداره)ده.ویراوتصویر افغاني حماسه او د دري شعرونوټولګه یې د(شمع فروزان) په نامه خپاره کړې دي، او د ژوند په ورستیو کلو کې یې د ( رمزاوراز ) لومړی او دوهمه برخه د موسیقي کتاب لیکلی او خپور کړې دی. په کار ده چې د هیواد ځوان لیکوال دې دورې پر لیکنو او څیړنوباندې تحقیق وکړي، ځکه چې په دوره کې استاد ژواک دلیکوالوهغه د زړه خواله او لیکني په زیري جریده کې په خورا جرءت خپرولې ،چې په نورو رسنیو کې یې چا د خپریدو زړه نه شوکولاې او په دې ترڅاواستاد څو وارې د وخت د چارواکو له خوا تر فشارونو لاندې هم راغلی دی. د بیلګې په توګه استاد په تهران کې د یونسکو له خوا جوړې شوي یوېې علمي غونډې ته بلل شوی و، جې دسفر په ورځ په کابل هوایي ډګر کې راوګرځول شو اوله سفره پاته شو. خودا ډول فشارونو استاد له خپلې تګلارې څخه وانه ړولای شو. استاد خپل ځانګړی ټولنیز نظرلید درلود، ده هر کله هیواد پال او مثبت سیاسي ځواکونه تاییدول، د غیري ملي اوغیر وطني تګلارو ټیکه دارانیې انتقادول. دی دی د یوه مثبت او ناترلې سیاستپوه په توګه دهیڅ سیاسي جریان یا ګوند غړی نه و. خو د ټولو وطنپالو او ریښتینو سیاسي جریانونوپه څنګ کې یې پر هر ګام د افغانستان دملي یووالي ، ټولنیز اقتصادي پر مختګ او د افغان ملت د فرهنګي او تاریخي ویاړونو د ساتني لپاره خپل ټول توان او انرژي وقف کړې وه.
استاد دهیواد پرخپلواکۍ مین او بشپړه عقیده یې لرله، چې د افغانانو ګډ کورخپله افغانان جوړولای شي او دا حق باید هیڅ پردي او باندني ځواک ته ورنکړل شي.
استاد ژواک په (۱۳۵۲) لمریز کال کې له خپل قانوني عمر څخه مخکې تقاعد کړه شو. خو استاد بیاهم آرام نه کښیناست بلکي د ژوند تر وروستیو شیبو پوري یې په خپل هیواد کې د ننه او د باندې د لیکلو څخه لاس وانخیست.
د استاد ژواک میرمن آغلې عایشه ژواک نومیده، پنځه اولادونه ور څخه پاته دي چې د لوړو زدکړو څښتنان دي. دوه یې زامن دي چې یو یې ریدی ژواک دی چې دا مهال په خارکوف کې اوسي او بل یې پسرلی ژواک په ناروې کې اوسي. درې یې لوڼې دي: زرغونه ژواک عطا او ملالی ژواک جواد په آلمان کې ، او نازو ژواک سربلند په هالند هیواد کې اوسي. خدای بخښلی استاد ژواک د (۱۹۹۷ )ع کال داګست پر اوولسمه په آلمان کې د زړه د ناروغی له کبله سترګې پټې کړې.
ارواښاد ژواک صیب د خپل ژوند په ورستیو کلونو کې د رمزاو راز اثر دوهمه برخه بشپړه او ولیکله، چې د دغی کتاب څخه مو یوه ادبي ټوټه په نام دی( ما وژړل ) غوره کړې تاسو ته یې وړاندی کوم.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

ما وژړل!

نن ما وژړل- دومره ډير لکه پر ما چې په ژوند کښې پر غمونو دژړلو لوی پورلا پاتې وي مګر؟! ته خو پوهيږې چې ما ستا په جهان کښې هلته چې پسرلي د دښت د لمنې ډکولو غاړه په ګلونو خلاصه کړې وي. هلته چې د اوريځو شوخی د سيند د آرامو اوبو پر مخ د ليونی نڅا واری تير کړی ؤ. هلته چې سپينې واورې د جګو غرونو دسر د سپينې بګړی دولونود پيچلوپټ ساتلی وي. هلته چې د ګڼو ځنګلونود ونود څانګو په منځ کښې د رنګينومرغيو د ځالې جوړولوخواله نه وه سپمول شوې.

هلته چې د مور د سترګو څخه د خپل نازولي بچي و سترګو ته د نازد ټالونو د للو للوست لا نه وه پاتې شوی. هلته چې د سپين سحر د وړانګو هيلې د خوشی د اميدوارو سترګو د پاره پلټنه د نا اميدیډ بيرې څخه سپمولی وه ما پور ادا کړی دی. د ژړا دهغې ژړا چې ستا دورکې د پلټنې په ويرما پر ځان پورباله هلته چې د بيخبری بيه توري شپې په توره لمن کښې د آرام خوب ارمان لانه پيژانده اوما د خوښی د جهان د مړو څخه بيبګانه توب د خپل ليونتوب د مزله لومړی پړاو باله. هلته چې د عقل پرپله روان به د روږد جهان سره ماته د بيګانه په نظر کتل او ما به ستا دور کې د لټون په غم د اوښکو پور ادا کاوه. هلته چې د شپې آرامتيابه يوازې د رڼوستورو په راليږلوخپلې مشغولتيا ته دآرامی ست او سلامنله، ما به د ژړا- په پټه د ژړا پور ادا کاوه. ما ژړل او د ژړا د تسل اشنايي به مې د ستړي زړه ملګرې وه ما ژړل- ژړل مې او د ژوند د غمونو پور مې ادا کړی دی. اې زما په پټه ژړا خبره ! نو ته نور زما د لټونې د درد تسکين زما د ستړي زړه د وروستيو څاڅکو رڼې مرغلرې مه بوله، ما پور ادا کړی دی او د ژوند يوازينی د تسل هيله مې دغه ده!

آلمان بنزهايم

دستمبر (۱۹۹۶)

اروا دې يې ښاده او ياد دې يې تل ژوندې وي

په ډير درنښت

انجنيرعبدالقادر مسعود

May 28th, 2010

http://archive.mashal.org/content.php?t=%D8%AF%DA%81%D9%88%D8%A7%DA%A9%D9%85%D9%86%20%D9%82%D9%84%D9%85%20%D8%A7%D9%88%20%D8%A7%D8%AF%D8%A8%20%D8%AE%D8%A7%D9%88%D9%86%D8%AF%20%D8%A7%D8%B1%D9%88%D8%A7%DA%9A%D8%A7%D8%AF%20%D8%A7%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D8%AF%20%D9%85%D8%AD%D9%85%D8%AF%20%D8%AF%DB%8C%D9%86%20%DA%98%D9%88%D8%A7%DA%A9%20%20%20%20%20%20%20%20%20&c=shehr&id=01361



pashtoon.net / pashtun.info September 2017